مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

پوهندوی آصف بهاند ۲۰۲۲/۰۱/۰۳

# نعمان دوست او «ماښامی مجلس» یې

## (د کوربه او میلمه د زړه خواله)

### دویمه برخه




**او اوس هم «ماښامی مجلس»:**

د نعمان دوست «ماښامی مجلس» بیخي یو ابتکاري ژانر دی چې کېدای شي «د کوربه او میلمه د زړه خواله» ونومول شي. دا ټیپ لیکنې په پښتو ادب کې په دې بڼه مخینه نه لري، یوازې د استاد بېنوا «د زړه خواله» سره کېدای شي څه ورته والی ولري. دواړه لیکوال له خپلو ملګرو سره د زړه خواله کوي، په دې توپیر چې د بېنوا صاحب ملګری غایب دی او د دوست صاحب ملګری مخامخ ورسره ناست دی او خبرې ورسره کوي.



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکې په ځیر و لولئ




نعمان دوست د «ماښامی مجلس» په هره برخه کې ټولنیزې ستونزې او نیمګړتیاوې راسپړي، توزیح کوي يې او د امکان تر بریده پورې د اصلاح په پار، حللارې ورته په نښه کوي.

نعمان دوست د «ماښامي مجلس» په بنډار کې له خپل ملګري کرکتر سره معمولاً د ورځې پر مسایلو بحث کوي، په عامیانه او عالمانه ډول ورځنۍ ستونزې راسپړي او خبرې پرې کوي، د «ماښامي مجلس» په پنځه ویشتمه برخه کې پر یو ټولنیز مرض یعني انسان تښتونه باندې په داسې وخت کې غږېږي چې د انسان تښتونې په تاریخ کې د لومړي ځل له پاره واکدارانو خو تنه انسان تښتونکي وژلي او بیا يې د ښار په مهمو سیمو کې د هغوي مړي داسې راځړولي دي چې د نورو له پاره د عبرت د یو درس حیثیت ولري. د «ماښامي مجلس» په پنځه ویشتمه برخه کې د دوست صاحب د دیالوګ یوه برخه دا ده:

«میلمه، لکه ویریدلی چې وي؛ نارامه و. غوښتل يې څه ووایي؛ خو الفاظو ور سره یاري نه کوله.

ما ویل انډیواله، خیریت خو دی؟ ولې داسې اوتر يې؟ لکه چې خوب کې دې پیریان لیدلي؟

زما له خبرو سره يې د ارام ساه واخیسته، پر وچو شونډو يې ژبه راتېره کړه او بیا يې ویل:

هغه د ستنو سرونو کې دې خلک ولیدل؟

ــ نه، البته برقیان به و او مزي به يې تړل.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

ـ نه، هغه جسد... ژبه یې وچه شوه.

ـ جسدونه د چا ول؟

ـ د انسان تښتوونکیو. وژلي به یې ول؛ نو ځوړندول یې ولې؟ د دوی لیدل خو سړی ډاروي.

ـ د ځوړوندولو موخه همدا وي چې خلک وډار شي. دا خو یې ډېر ښه کار کړی.

ـ په تعجب یې راوکتل؛ دا ته کله داسې سخت زړی شوی یې؟

ـ د شهید اباسین د پرې شوو ګوتو له لیدلو وروسته په زنځیرونو د تړلي بلخي ماشوم عبدالروف له لیدلو وروسته او...

میلمه، ځان ته پیاله ډکه کړه. ماته یې هم چای واچوه او بیا یې ویل: دا دوه ماشومان څوک دي؟ او څه کیسه یې ده!؟

ـ اباسین، د څو خویندو ایکي یو ورور و. وه یې وتښتاوه، له پلاره یې ورته پیسې غوښتې. پلار بې چاره سره یې هومره پیسې نه وې. اختطافچیانو د لاس تنکۍ ګوتې ور پرې کړې، کاغذ کې یې کلوله کړې او پلار ته یې ور ولیږلې. چې پلار یې کاغذ پرانیست نو ترپ شو او د خپل زوی... له دې سره میلمه داسې چیغه کړه، لکه چا چې یې ګوتې ور پرې کړې وي.

بیا مې د بلخي ماشوم عبدالروف نکل راواخیست، چې له مزار شریف یې شاوخوا لس میاشتې پخوا تښتولی. د شکنجو او چیغو ویډیو ګانې یې وخت نا وخت خپریږي، چې مورکۍ یې څو ځلې په لیدلو کوما ته هم تللې ده...»

لیکوال د خپل «ماښامی مجلس» په ترڅ کې د سیاسي، اقتصادي، نظامي او نورو ګڼو موضوعاتو ترڅنګ کله ـ کله د هېواد تاریخي جغرافیه هم نه هېروي، دا یې یوه بېلګه ده:

«... یکاولنګ د بامیانو له مرکز، د سمنګانو له دره صوف، د بامیانو له پنجاب او د سرپل له بلخاب ولسوالۍ سره ګډې پولې لري.»

که د نعمان دوست بېلابېلي لیکني چا په دقت سره لوستي وي، دې موضوع ته به یې پام شوی وی چې دی په لنډو لیکنو کې ښه لوی لاس لري یعني په څو جملو کې د یوې لویې کیسې او یا یوې رسالې مفهوم ځایوي او په هنرمندان ډول یې خپلو لوستونکو ته په مخکې ږدي. ده په «ماښامی مجلس کې هم کله ـ کله له همدې هنر نه کار اخیستی دی. دا بېلګه یې وګورئ چې نعمان دوست د څو جملو په ترڅ کې د ځلوېښت کلنو ناخوالو، وژنو، مهاجرتونو او... انځور په څه هنرمندانه ډول رسامي کوي:

**«...** یاد دې شي، هغه مازیګر قضاء چې به سترې مرغۍ له کروندو راغلې. نهرو منتظرو بچیو به یې د خوشالۍ شور جوړ کړ. د چنار هره پاڼه به خوځیده. موږ بې رحمو به د لیندۍ ګوزار وکړ او له دې سره به چنچنې والوتې. د کومې یوې پر سینې به د لیندۍ ګاټې ور ننوتلې و او څیرې ګیډه به راولویده. د ځینو به ښکې لکه مجبورې نڅاګرې ورو ـ ورو تاویدې او راښکته به شوې. چنچنو به یوه لنډه دوره وکړه او بیا به په چنار را تویه شوې.

سړی غلی شو. سر یې د دواړو زنګنونو منځ کې کینود. ډېر ځنډ وروسته یې سرې سترګې راپورته کړې:

کټ مټ هماغه چنچنې یوو. ښکاریان راشي، ډز وکړي. خلک وړې بچې پرېږدي، منډه کړي. خو بیرته خپلو مېنو ته راوګرځي او بیا یې هره لحظه د بل ډز په ویره کې تیریږي. په دې تېره نیمه پیړۍ کې خو د خپلو خلکو مهاجرتونه شمار کړه، هر ځل مو څه د کارکړی له لاسه ووتلې.»

**د** «ماښامی مجلس» دېرشمه برخه د اوبو حیاتي مادي او زموږ په هېواد کې د ارزښت نه پوهېدنې ته وقف شوې ده او په خورا عالي استدلال سره د اوبو پر ارزښت او د خوندي کولو پر لارو چارو باندې بحث شوی دی. د اوبو د ارزښت په باب یې دا څو جملې وګورئ:

**«** میلمه ته مې په حیرانۍ وکتل: په دې کوچنیو تدابیرو څه نه کیږي. له اوبو سره په لویه کچه بې انصافي وشوه. له کابل ښاریانو مې اوریدلي چې آن د ډاکټر نجیب د واکمنۍ تر پایه چا حق نه درلوده چې خپلسر ژوره څا وکیني، ځکه دې کار د اوبو کچه ښکته کوله، خو په را وروسته دورونو او خصوصاً په تیرو شلو کلونو کې چې د تحصیلیافته و او متخصصینو حکومتونه ول، د کابل سینه سورۍ سورۍ شوه. د پریمانه ډالرو په باران کې د ښار کې د څښلو د اوبو


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

په منظم ويش کار ونشو. نړدې هر کور، مارکيټ او... ژوري کوهياني ووهلي او نتيجه دا شوه چي اوبه په ورکيدو دي. باور وکړه انديواله، چي کله دغه ايت شريف «...إِنْ أَصْبَحَ مَاؤُكُمْ غَوْرًا فَمَن يَأْتِيكُم بِمَاءٍ مَّعِينٍ -۱ » تلاوت کوم؛ نو وډار شم، حلق مي وچ شي او وايم هسې نه له دې حياتي مادې خلاص شوو او که خلاص شوو نو بيا به څه کوو.

ميلمه چي د اوبو په لټه کي ستړى شوى و، غوسه شو: ګوره، هرڅوک تر خپل وس مسوول دى . نو هرڅوک بايد د اوبو له اسرافه ځان وساتي. اسراف ګناه ده. خداى ج اسراف کوونکي د شيطان ورونه ګڼي: «إِنَّ ٱلْمُبَذِّرِينَ كَانُوٓاْ إِخْوَٰنَ ٱلشَّيَٰطِينِ -۲»

آن په اوداسه او غسل کي بايد د اوبو له اسرافه ځان وساتل شي. پخلنځيوکي دې ورسره احتياط وشي، کاليو وينځلو کي دې ور سره پام وشي او...»

دا جملې يې د هېواد او خلکو د بيوسي وروستى حد بيانوي:«

ـ کومه بله خوا به تللې وې.

ـ چيرته لاړ شم؟ کوم دى د تګ وس. باور به دې ونشي؛ يو دوه ځلي تر تورخمه لاړم، داسي يو حالت و چي په ما يې خپل دردونه هېر کړل. سرى خپه شي چي په دې ۲۱ مه، پيړى کي موږ څومره بدبخته او څومره له بنيادي اسانتياوو محروم خلک يوو. د ميړاني، قهرمانى، لرغوني تاريخ لاپي شاپي مو ګوره او بيا مو ژوند ته ګوره چي زموږ په مخکي زيږيدلي هيواد ته هم محتاج يوو. اخر دې جذباتو او قهرمانيو موږ ته څه راکړل؟»

د «ماښامي مجلس» په يوځلوېښتمه برخه کي کله چي د باميانو د سفر کيسي کوي، نو هلته د کوم ښه سرک چي په ستندرد برابر دى او واکدارانو په کي کوم تقلب نه دى کړى، نو د کابل کندهار سرک او کابل ننګرهار له سرکونو سره يې پرتلنه کوي او په باميانو کي د ښه سرک د ښېګڼو تر څنګ په انتقادي ډول د کابل ـ کندهار د سرک يادونه کوي.

دوست صاحب په «ماښامى مجلس» کي په خورا ساده او عاميانه ژبه داسي انتقادونه مطرح کوي چي سياسي څېړې يې لا نه شي کولاى او ورته پام يې هم نه وي. د مجلس په ۴۳ مه برخه کي له خپل بنداري سره د باميانو د کيسو په ترڅ کي د هغې سيمې د حاصلاتو په باب غړېږي، د باميانو د کچالو او د ميدان وردګو د منو په باب خبره مطرح کوي، ورسره په څنګ کي د واکدارانو د ناسم مديريت په وجه د سږو خونو نشتوالي ته اشاره کوي او د بزګرو خوارى او تاوانونه يادوي. دا ډول انتقادونه او ورسره حلالړى بنودل، د انتقاد داسي نوې طريقه ده چي ګرم مقامات د خلاصون له پاره هيڅ ډول استدلال نه شي کولاى، اړ دي چي انتقاد ومني او ځان اصلاح کړي.

نور بيا



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارى ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزى بني پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له رااليرلو مخکي په ځير و لولئ